

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د نشه يي توکو پر وړاندې دمبارزې معينيت
ملکي معاونيت
د نشه يي توکو د سروې او تحليل رياست

# په افغانستان کې دنشه يي توکو د بيو د څارني مياشتني راپور



وری ۱۴۰۴ ه.ش

## د مطالبو لړليک صفحه


۱. مهمي موندنې...... 3
۱/۱ د نشه يي توکو د بيو حال...... 3
۲. پيلامه...... 4
۳. ترياک...... 5
۳/۱ وچ ترياک...... 5
۳/۱/۱ د وچو ترياکو بيه د پټي په سر...... 5
۳/۱/۲ د تجارانو تر منځ بيي...... 6
۳/۲ وچ ترياک ( چاينکې کېفيت)...... 7
۱/۲/۳ د پټي د سر بيي...... 7
۲/۲/۳ د تجارانو له خوا بيه...... 7
۳/۳ تازه ترياک...... 8
۴. هيروين...... 9
۵. صنعتي نشه يي توکي...... 10
۶. چرس...... 13
۷. د چرسو او کوکنارو داني...... 15
۸. د هيروينو، ترياکو او چرس بيي د مصرف کوونکو په سطح...... 16
۹. د اسيتک انهايدرايد(تيزابونو) بيه...... 16
۱۰. د اومان بيه...... 17
۱۱. مشروع محصولات...... 18
۱۲. د رواني مياشتي د نرخونو د لوړيدو او ټيټدو لاملونه...... 19
۱۳. يادښتونه، ستونزي او وړانديزونه...... 21
۱۴. ميتودلوژي/ کړنلاره...... 22

## د جدولونو لړليک صفحه


۱ جدول: د نشه يي توکو د بيو خلاصه ... 3
۲. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د بيي اوسط د پټي په سر په ډالرو (۲۰۲۵ فبروری تر ۲۰۲۵ مارچ)... 5
۳. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو له فبروری ۲۰۲۵ تر مارچ ۲۰۲۵ کال ... 6
۴. جدول: د يو کيلو وچو چاينکې ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر په امريکايي ډالرو ... 7
۵.جدول: يو کيلو ګرام وچ چاينکې ترياکو د بيو اوسط د تجار په سطح په امريکايي ډالرو... 7
۶. جدول: د وچ ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو پولي واحدون ... 7
۷ جدول: د تازه ترياکو سيميز نرخ د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو محلي پيسو ... 8
۸ جدول: د يو کيلو ګرام مختلف ډوله هيروينو نرخ په ډالرو په افغانستان کې (د ۲۰۲۴ مارچ تر ۲۰۲۵ مارچ)... 9
۹جدول: د يو کيلو ګرام مختلف ډوله هيروينو نرخ په نورو سيميزو پيسو ... 10
۱۰ جدول: ديوه واحد صنعتي نشه يي توکو بيه په ډالرو ... 11
۱۱ جدول: د يو کيلو ګرام بنګو بيي په افغانستان کې په ډالرو د مارچ ۲۰۲۴ تر مارچ ۲۰۲۵ ... 13
۱۲ جدول: په هيواد کې د يو کيلو ګرام بيلابيلو ډولونو چرس بيي په سيميزو پولي واحدنو (فبروری ۲۰۲۵ – مارچ ۲۰۲۵) ... 14
۱۳ جدول: د چرسو او کوکنارو د دانو بيي په سيميز د پيسو په واحدنو (فبروری ۲۰۲۵ – جنوری ۲۰۲۵) ... 15
۱۴ جدول: د يو کيلو ګرام چرسو او کوکنارو دانو بيه په ډالرو ( مارچ ۲۰۲۴ تر مارچ ۲۰۲۵) ... 15
۱۵ جدول: د هيروينو، ترياکو او چرسو د بيو اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو د ۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵ مارچ مياشتو ترمنځ 16
۱۶ جدول: په افغانستان کې د يو ليټر استيک انهايدريد بيه په ډالرو د ۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵ مارچ مياشتو تر منځ... 16
۱۷ جدول: په افغانستان کې د اومان د يوکيلو ګرام اوسط بيه په امريکايي ډالرو د ۲۰۲۵ فبروری څخه تر ۲۰۲۵ مارچ پورې ... 17
۱۸ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطني وريجي بيي په افغانستان کې په محلی پيسو ۲۰۲۵ کال مارچ مياشت... 18
۱۹ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطني وريجي د بيو اوسط په افغانستان کې په ډالرو د ۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵ مارچ مياشتو پورې... 18
۲۰ جدول: د وچ او تازه ترياکو د بيو اخيستلو څخه ليدنی شمير ... 22


## د شکلونو لړليک صفحه


۱. شکل: د وچو ترياکو د بيو اوسط د سيمی په سطح د پټي په سر د ( جون ۲۰۰۴ تر مارچ ۲۰۲۵) کلونو تر منځ ... 5
۲.شکل: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو (۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵) مارچ مياشت پورې... 6
۳ شکل: د يو کيلو تازه ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په ډالرو (جون ۲۰۰۵ تر مارچ ۲۰۲۵) ... 8
۴ شکل: د ډول ډول صنعتي نشه يي توکو بيي په ډالرو ۲۰۲۵ کال مارچ مياشت... 12
۵ شکل: د يو کيلو ګرام (ګرده-۱ عالي) بنګو بيه په ډالرو د (۲۰۲۴ مارچ – ۲۰۲۵ مارچ) مياشتو تر منځ... 13
۶ شکل: په هيواد کې د يو کيلو ګرام بيلا بيلو ډولونو بنګو بيي په ډالرو د مارچ مياشت ۲۰۲۵ کال... 15
۷. شکل: د هيروينو، ترياکو او بنګو د بيو سيميز اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو ۲۰۲۵ کال مارچ ... 16

## ۱. مهمي موندني

### ۱،۱ د نشه يي توکو د بیو حال

### ۱ جدول: د نشه يي توکو د بیو خلاصه

| د نشه يي توکو ډولونه | میاشتني | | | کلني | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | فبروری 2025 | مارچ 2025 | توپیر په فیصدی | مارچ 2024 | مارچ 2025 | توپیر په سلنه |
| د یو کیلوګرام وچ تریاکو بیه د پټي په سر په امریاکائی ډالرو | 575 | 556 | -3.2% | 818 | 556 | -32% |
| د یو کیلوګرام وچ تریاکو بیه د تجارانو له خوا په امریاکائی ډالرو | 586 | 569 | -2.9% | 833 | 569 | -32% |
| د یو کیلوګرام تازه تریاکو بیه د پټي په سر په امریاکائی ډالرو | 334 | 336 | +1% | 553 | 336 | -39% |
| د یو کیلوګرام تازه تریاکو بیه د تجارانو له خوا په امریاکائی ډالرو | 355 | 357 | +1% | 568 | 357 | -37% |
| د یو کیلو ګرام بټن (100 ٪) هیروینو بیه په امریکائی ډالرو | 9907 | 10210 | +3% | 11000 | 10210 | - |
| د یو کیلوګرام کرستال (60 ٪) هیروینو بیه په امریکائی ډالرو | 5342 | 5464 | +2% | 7594 | 5464 | -28% |
| د یو کیلوګرام کرستال (40 ٪) هیروینو بیه په امریکائی ډالرو | 4338 | 4389 | +1% | 6366 | 4389 | -31% |
| د یو کیلوګرام مورفینو بیه په امریکائی ډالرو | 4400 | 4316 | -2% | 6403 | 4316 | -33% |
| د یو کیلوګرام بنګو (ګرده-1) بیه په امریکائی ډالرو | 223 | 227 | +2% | 192 | 227 | +18% |
| د یو کیلوګرام بنګو (ګرده-2) بیه په امریکائی ډالرو | 142 | 138 | -3% | 127 | 138 | +9% |
| د یو کیلوګرام بنګو (ګرده-3) بیه په امریکائی ډالرو | 115 | 102 | -11% | 114 | 102 | -10% |
| د یو کیلوګرام شیشه (بهرنی) بیه په امریکائی ډالرو | 1.87 | 1.95 | +5% | 2.14 | 1.95 | -8.6% |
| د یو کیلوګرام شیشه (وطنی) بیه په امریکائی ډالرو | 1.10 | 1.02 | -8% | 1.35 | 1.02 | -25% |
| د یو امپول سوسیګان (بهرنی) بیه په امریکائی ډالرو | 1.18 | 1.23 | +5% | 1.39 | 1.23 | -11% |
| د یو امپول سوسیګان (وطنی) بیه په امریکائی ډالرو | 0.757 | 0.803 | +6% | 0.79 | 0.803 | +1% |
| د یو دانه تاجیکي تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 13.10 | 14.15 | +8% | 15.0 | 14.15 | -6% |
| د یو دانه ایراني تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 5.94 | 6.43 | +8% | 10.0 | 6.43 | -36% |
| د یو دانه پاکستاني تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 4.74 | 5.00 | +6% | 6.8 | 5.00 | -26% |
| د یو دانه وطنی تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 2.36 | 2.20 | -7% | 3.40 | 2.20 | -35% |

**۲. سرلیک**

د نشه يي توکو د بيو څخه څارنه په افغانستان کې اسلامي امارت د کورنيو چارو وزارت او د نشه يي توکو سره د مبارزې معينيت له خوا تر سره کېږي.

د نشه يي توکو د بيو راټولول او څارنه له ۱۳۷۳هجري کال راپديخوا په څو ټاکل شويو ولايتونو کې ترسره کېږي.

له (۲۵) ولايتونو څخه د ترياکو د بيو راټولول په مارچ مياشت (۲۰۲۵) کال کې د نشه يي توکو د دقيقو بيو په اړه مالومات ښيي.

د نشه يي توکو د بيو راپورونه چې د سروې او تحليل رياست په کلنيو راپورنو کې نشر کېږي مور. ته د افغانستان د ترياکو اقتصاد په اړه مالومات راکوي اوهمدارنګه د نظارت پروسه ډيرد مشروع محصولاتو او کېمياوي توکو (پريکرسر) باندي څرخي او په اوسنيو د بيو په راپورونو کې د ترکيبي او صنعتي نشه يي توکو بيي هم شامل شوي دي.

همدارنګه د نويو څېړنو په ترڅ کې د ترکيبي ( صنعتى) نشه يي توکو لکه خارجى شيشه، وطنى شيشه، خارجى سوسيګان، وطنى سوسيګان، تابليت کا چي (ايرانى، تاجيکي، پاکستانى او وطنى) او د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر مياشت څخه د اومان (ايفيډرا) بوټي بيه، چې د شيشې په توليد کې کارول کېږى هم پدې راپور کې شامل شوي دي.

## ۳. تریاک

### ۳,۱ وچ تریاک

### ۳,۱,۱ د وچو تریاکو بیه د پټي په سر

په افغانستان کې د وچو تریاکو بیه د پټي په سر د ۲۰۲۵ کال د مارچ تر پای ۵۵۶ امریکایي ډالر محاسبه شوي دي. د ۲۰۲۵ کال د فبروری میاشت کې یو کیلو وچ تریاک په ۵۷۵ ډالره وه چې د تیري میاشتي په پرتله یې ۳,۲٪ کموالی پکې راغلي دي. همدارنګه د وچو تریاکو د بيي اوسط د ۲۰۲۵ کال مارچ میاشت د ۲۰۲۴ کال مارچ میاشتي په پرتله چې ۸۱۸ ډالره وه، ۳۲٪ کموالی پکې راغلي دي.

**۱. شکل: د وچو تریاکو د بیو اوسط د سیمی په سطح د پټي په سر د ( جون ۲۰۰۴ تر مارچ ۲۰۲۵) کلونو تر منځ**




**۲. جدول: د یو کیلو وچ تریاکو د بیي اوسط د پټي په سر په ډالرو (۲۰۲۵ فبروری تر ۲۰۲۵ مارچ)**


| سیمه | د یو کیلو وچو تریاکو بیه په امریکائی ډالرو | | د بیو توپیر په (%) |
|---|---|---|---|
| | فبروری 2025 | مارچ 2025 | |
| ختیځ زون ( ننګرهار، لغمان او کنړ) | 955 | 858 | -10% |
| سویل زون ( هلمند،کندهار، زابل، ارزګان او دایکندی) | 308 | 321 | +4% |
| لویدیځ زون ( بادغیس،هرات، غور، فراه او نیمروز) | 689 | 667 | -3% |
| شمال لویدیځ زون ( بدخشان، تخار اوکندز) | 441 | 447 | +1% |
| شمال زون ( بغلان، بلخ، فاریاب، سرپل، جوزجان اوسمنګان) | 376 | 406 | +8% |
| زون مرکز ( کابل، غزنی او کاپیسا) | 641 | 601 | -6% |
| **اوسط** | **575** | **556** | **-3.2%** |

## ۳,۱,۲ د تجارانو تر منځ بيي

د تجارانو له خوا د وچ ترياکو د بيو اوسط د ۲۰۲۵ کال مارچ مياشت کې يو کيلو په ۵۶۹ امريکايي ډالره وه، د فبروری مياشتي په پرتله چې يو کيلو ترياک په ۵۸۶ ډالره وه ۲,۹٪ کموالی ښيي.
همدارنګه د وچو ترياکو بيي د تجارانو له خوا د تيرکال يعنی ۲۰۲۴ مارچ مياشت کې يو کيلو په ۸۳۳ امريکايي ډالره وه چې سږ کال ته ۳۲٪ کموالی ښيي.

د وچو ترياکو بيه د تجارانو له خوا ۸٪ په شمال زون کې، ۴٪ په سويل زون کې او ۲٪ په شمال لويديځ زون کې ډيروالی او ۱۰٪ په ختيځ زون کې او ۳٪ په لويديځ زون کې کموالی راغلی دی.

**۲.شکل: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو (۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵) مارچ مياشت پوری**




**۳. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو له فبروری ۲۰۲۵ تر مارچ ۲۰۲۵ کال**

| سيمه | د يو کيلو وچو ترياکو بيه په امريکائی ډالرو | | د بيو توپير په (%) |
|---|---|---|---|
| | فبروری 2025 | مارچ 2025 | |
| ختيځ زون ( ننګرهار، لغمان او کنړ) | 958 | 861 | -10% |
| سويل زون ( هلمند،کندهار، زابل، ارزګان او دايکندی) | 312 | 325 | +4% |
| لويديځ زون ( بادغيس،هرات، غور، فراه او نيمروز) | 703 | 684 | -3% |
| شمال لويديځ زون ( بدخشان، تخار اوکندز) | 472 | 479 | +2% |
| شمال زون ( بغلان، بلخ، فارياب، سرپل، جوزجان اوسمنګان) | 382 | 412 | +8% |
| زون مرکز ( کابل، غزنی او کاپيسا) | - | - | - |
| **اوسط** | **586** | **569** | **-2.9%** |

## ۳,۲ وچ ترياک ( چاينکې کيفيت)

### ۱,۲,۳ د پټي د سر بيې

د کيفيت له نظره د وچو ترياکو په بيو کې بدلون په بيلا بيلو سيمو کې نه دي راغلي، په هلمند او بلخ ولايتونو کې د چاينکې په نوم د وچو ترياکو يو بل ډول چې په آزاده هوا کې له لند بل (رطوبت) څخه لرې وي د پټي په سر او د تجارانو له خوا پيدا کيږي، چې قيمت يي يو کيلوګرام په ۲۰۲۵ کال مارچ مياشت کې په بلخ ولايت کې ۵۹۵ ډالره وه چې د فبرورى مياشت په پرتله چې ۵۶۹ ډالره وه ۵٪ زياتوالی پکې راغلي دي. همدارنګه د يو کيلو چاينکې وچو ترياکو بيه په فبرورى مياشت کې په هلمند ولايت کې ۵۵۴ ډالره  وه چې مارچ مياشتې په پرتله چې يوه کيلو ګرام په ۵۵۸ ډالره وه ۱ ٪ زياتوالی ښيي.

**۴. جدول: د يو کيلو وچو چاينکې ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر په امريکايي ډالرو**

| وچ ترياک (چاينکې) | بلخ | | د بيو د سلنې توپير (فبرورى - مارچ) | هلمند | | د بيو د سلنې توپير (فبرورى - مارچ) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | فبرورى 2025 | مارچ 2025 | | فبرورى 2025 | مارچ 2025 | |
| د يو کيلو ګرام د پټي په سر په امريکائی دالرو | 569 | 595 | +5% | 554 | 558 | +1% |

### ۲,۲,۳ د تجارانو له خوا بيه

په بلخ ولايت کې د وچو ترياکو چاينکې کيفيت يو کيلو ګرام په ۲۰۲۵ کال مارچ مياشت کې ۶۰۳ ډالرو ته رسيدلي وه چې د فبرورى مياشت په پرتله چې ۵۷۷ ډالره وه ۴٪ ډيروالی پکې راغلي ده. همدارنګه په هلمند ولايت کې يو کيلو ګرام وچ ترياک چاينکې کيفيت په مارچ مياشت کې ۵۶۲ ډالره وه چې د فبرورى مياشت په پرتله چې يوه کيلوګرام په ۵۵۸ ډالره وه  ۱ ٪ زياتوالی ښيي.

**۵.جدول: يو کيلو ګرام وچ چاينکې ترياکو د بيو اوسط د تجار په سطح په امريکايي ډالرو**

| وچ ترياک (چاينکې) | بلخ | | د بيو د سلنې توپير (فبرورى - مارچ) | هلمند | | د بيو د سلنې توپير (فبرورى - مارچ) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | فبرورى 2025 | مارچ 2025 | | فبرورى 2025 | مارچ 2025 | |
| د يو کيلو ګرام د تجاريه سطح په امريکائی دالرو | 577 | 603 | +4% | 558 | 562 | +1% |

**۶. جدول: د وچ ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو پولي واحدون**


| سيمه | د محلی پيسو واحد | د يو کيلوګرام وچ ترياکو بيه په محلی پيسو | | | | د پيسو تغير په فيصدی د پټي په سر (فبرورى - مارچ) % | د پيسو تغير په فيصدی د تجارانو له خوا (فبرورى - مارچ) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | فبرورى 2025 | | مارچ 2025 | | | |
| | | د پټي په سر | د تجار په سر | د پټي په سر | د تجار په سر | | |
| ختيځ زون (ننګرهار، لغمان او کنر) | پاکستانی روپی | 266,097 | 266,955 | 240,148 | 241,006 | -10% | -10% |
| سويل زون (هلمند، کندهار، ارزګان، زابل او دايکندی) | پاکستانی روپی | 86,129 | 87,168 | 90,036 | 91,111 | +5% | +5% |
| لويديځ زون (هرات، بادغيس او غور)* | افغاني | 42,710 | 43,560 | 41,655 | 42,915 | -2% | -1% |
| لويديځ زون ( فراه او نيمروز)* | ايرانی تومان | 35,086,423 | 35,736,349 | 32,409,841 | 33,049,636 | -8% | -8% |
| شمال لويديځ زون (بدخشان، کندوز او تخار) | افغاني | 32,087 | 34,330 | 31,310 | 33,583 | -2% | -2% |
| شمال زون (بغلان، بلخ، فارياب، سرپل، جوزجان اوسمنګان) | افغاني | 27,207 | 27,679 | 28,268 | 28,704 | +4% | +4% |
| مرکز زون ( کابل، غزنی او کاپيسا) | افغاني | 46,600 | - | 42,000 | - | -10% | - |

لويديځ زون په دو واحدنو ويشل شوی ځکه د لويديځ زون څخه بيي د پيسو په دو واحدنو راځي.

### ۳,۳ تازه ترياک

د ۲۰۲۵ کال د مارچ مياشت په ورستيو کې د تازه ترياکو محلی بيو کې ٪۱ زياتوالی راغلي دي چې په مارچ مياشت کې يوه کيلوګرام تازه ترياک ۳۳۶ ډالر وه او په فبروری مياشت کې ۳۳۴ ډالره د پټي په سر وه.
د تجارانو له خوا د تازه ترياکو په بيو کې هم ٪۱ زياتوالی راغلي دي چې په فبروری مياشت کې يوه کيلوګرام تازه ترياک په ۳۵۵ ډالره وه او په مارچ مياشت کې ۳۵۷ ډالره دی.

**۳ شکل: د يو کيلو تازه ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په ډالرو (جون ۲۰۰۵ تر مارچ ۲۰۲۵)**




**۷ جدول: د تازه ترياکو سيميز نرخ د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو محلي پيسو**

| سیمه | د محلی پیسو واحد | د یو کیلوګرام تازه تریاکو بیه په محلی پیسو | | | | د پیسو تغیر په فیصدی د پټي په سر (فبروری - مارچ) % | د پیسو تغیر په فیصدی د تجارانو له خوا (فبروری - مارچ) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | فبروری 2025 | | مارچ 2025 | | | |
| | | د پټي په سر | د تجار په سر | د پټي په سر | د تجار په سر | | |
| ختيځ زون (ننګرهار، لغمان او کنړ) | پاکستانی روپۍ | - | - | - | - | - | - |
| سویل زون (هلمند، کندهار، ارزګان او زابل) | پاکستانی روپۍ | 59,622 | 61,971 | 63,982 | 65,484 | +7% | +6% |
| لویدیځ زون (هرات، بادغیس او غور)* | افغانی | 30,795 | 31,853 | 30,355 | 31,413 | -1% | -1% |
| لویدیځ زون ( فراه او نیمروز)* | ایرانی تومان | 19,383,047 | 21,311,246 | 16,739,852 | 18,692,306 | -14% | -12% |
| شمال لویدیځ زون (بدخشان، کندوز او تخار) | افغانی | 26,658 | 28,931 | 25,860 | 28,133 | -3% | -3% |
| شمال زون (بغلان، بلخ، فاریاب، سرپل، جوزجان او سمنګان) | افغانی | 19,100 | 19,650 | 19,500 | 19,933 | +2% | +1% |
| مرکز زون ( کابل، غزنی او کاپیسا) | افغانی | - | - | - | - | - | - |

*لویدیځ زون په دو واحدونو ویشل شوی ځکه د لویدیځ زون څخه يې د پیسو په دو واحدنو راځي.

## ۴. هیرویین

په افغانستان کې ډول ډول کېفیت لرونکې هیرویین پیدا کېږي چې سپین پوډر (بټن) په ننګرهار کې، سپین پوډر (بټن) لوړ کېفیت په کندهار او هلمند کې، سپین پوډر (بټن) لوړ او سپین پوډر (بټن) ټیټ کېفیت په بلخ او فاریاب ولایتونو کې، سپین پوډر (بټن) ۱۰۰٪ او سپین پودر (کرستال ۶۰ ٪) په بدخشان، تخار او کندز ولایتونو کې پیدا کېږي.
همدارنګه په هرات، فراه، نیمروز او بادغیس ولایتونوکې هم د افغانستان د لوړ بيې لرونکې هیرویین موندل کېږي. او ارزانترین هیرویین چې یو کیلو ګرام په ۳۰۴ ډالر دي په ننګرهار ولایت کې موندل کېږي چې د (خطه-۲) په نامه ده.

**۸ جدول: د یو کیلو ګرام مخلتف ډوله هیرویینو نرخ په ډالرو په افغانستان کې (د ۲۰۲۴ مارچ تر ۲۰۲۵ مارچ)**

| ولایت | د هیروئینو ډولونه | مارچ _ 24 | اپریل _ 24 | می _ 24 | جون _ 24 | جولای _ 24 | اګست _ 24 | سپتمبر _ 24 | اکتوبر_ 24 | نومبر_ 24 | دسمبر_ 24 | جنوری _25 | فبروری _ 25 | مارچ _ 25 | د قیمت بدلون ( فبروری -مارچ) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بدخشان | بټن (100) | 11,000 | - | 11,708 | 11,554 | 11,230 | 10,769 | 11,273 | 11,288 | 11,236 | 10,684 | 9,761 | 10,175 | 10,416 | +2.4% |
| بدخشان | سپین پودر( کرستال) - 60% | 9,534 | 11,122 | 10,697 | 10,020 | 8,050 | 7,475 | 7,812 | 7,910 | 7,919 | 7,344 | 6,595 | 6,889 | 7,292 | +5.8% |
| تخار | بټن (100) | - | - | 12,134 | 10,698 | 9,998 | 9,618 | 10,123 | 10,801 | 10,757 | 10,080 | 9,233 | 9,639 | 10,003 | +3.8% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 10,072 | 10,100 | 10,644 | 9,699 | 8,193 | 7,318 | 7,887 | 7,621 | 7,470 | 7,056 | 6,595 | 6,875 | 6,992 | +1.7% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 8,057 | 8,082 | 8,834 | 8,701 | 7,305 | 6,136 | 5,028 | 5,096 | 4,856 | 4,248 | 4,023 | 4,194 | 4,352 | +3.8% |
| کندز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 10,575 | 9,823 | 10,332 | 9,628 | 8,308 | 7,017 | 6,416 | 6,420 | 6,454 | 6,077 | 5,698 | 5,926 | 6,150 | +3.8% |
| ننګرهار | سپین پودر (بټن) | 8,202 | 8,574 | 8,569 | 8,632 | 8,689 | 8,735 | 8,736 | 8,723 | 8,823 | 7,245 | 7,014 | 7,103 | 6,993 | -1.5% |
| ننګرهار | بهترین پودر | 7,015 | 7,409 | 7,410 | 7,469 | 7,501 | 7,945 | 7,499 | 6,932 | 7,005 | 5,515 | 5,252 | 5,332 | 5,242 | -1.7% |
| ننګرهار | چره # 1 | 1,331 | 1,435 | 1,447 | 1,451 | 1,569 | 1,609 | 1,594 | 1,560 | 1,585 | 1,262 | 1,223 | 1,265 | 1,226 | -3.1% |
| ننګرهار | چره # 2 | 630 | 681 | 702 | 745 | 759 | 808 | 786 | 758 | 778 | 701 | 683 | 795 | 765 | -3.8% |
| ننګرهار | خطه # 1 | 342 | 386 | 403 | 439 | 450 | 478 | 451 | 415 | 450 | 378 | 324 | 354 | 336 | -5.2% |
| ننګرهار | خطه # 2 | 252 | 281 | 306 | 342 | 353 | 374 | 361 | 343 | 353 | 324 | 288 | 325 | 304 | -6.6% |
| فاریاب | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت - 60% | 6,271 | 6,761 | 7,215 | 6,016 | 6,086 | 6,002 | 6,158 | 6,313 | 5,966 | 5,663 | 5,237 | 5,350 | 5,582 | +4.3% |
| فاریاب | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت -40% | 4,703 | 5,071 | 5,388 | 5,300 | 5,327 | 5,259 | 5,372 | 5,543 | 5,220 | 4,912 | 4,527 | 4,621 | 4,838 | +4.7% |
| بلخ | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت - 60% | 6,263 | 6,604 | 6,770 | 6,880 | 6,876 | 6,805 | 7,045 | 7,237 | 6,929 | 6,571 | 6,301 | 6,423 | 6,727 | +4.7% |
| بلخ | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت -40% | 4,982 | 5,340 | 5,642 | 5,447 | 5,543 | 5,504 | 5,680 | 5,851 | 5,555 | 5,304 | 4,914 | 4,993 | 5,224 | +4.6% |
| بلخ | بهترین پودر - 20% | 2,705 | 2,810 | 3,103 | 2,867 | 3,008 | 2,959 | 3,040 | 3,080 | 2,912 | 2,717 | 2,491 | 2,503 | 2,648 | +5.8% |
| هلمند | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت | 6,118 | 5,942 | 5,576 | 5,751 | 6,126 | 6,294 | 5,959 | 4,866 | 4,862 | 4,505 | 4,140 | 3,723 | 3,749 | +0.7% |
| هلمند | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت | 5,974 | 5,762 | 5,396 | 5,535 | 5,909 | 6,114 | 5,778 | 4,686 | 4,682 | 4,325 | 3,960 | 3,580 | 3,606 | +0.8% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 8,277 | 8,102 | 7,374 | 8,267 | 8,648 | 8,811 | 8,486 | 7,028 | 7,023 | 5,947 | 5,579 | 5,190 | 5,535 | +6.6% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 8,457 | 8,282 | 7,554 | 7,979 | 8,360 | 8,595 | 8,270 | 6,812 | 6,807 | 6,091 | 5,363 | 5,011 | 5,713 | +14.0% |
| هلمند | مورفین | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| کندهار | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت | 6,082 | 5,942 | 5,576 | 5,751 | 6,126 | 6,294 | 5,959 | 4,866 | 4,862 | 4,505 | 4,140 | 3,687 | 3,714 | +0.7% |
| کندهار | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت | 5,830 | 5,762 | 5,396 | 5,535 | 5,909 | 6,114 | 5,778 | 4,686 | 4,682 | 4,325 | 3,960 | 3,580 | 3,571 | -0.2% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 8,349 | 8,354 | 7,374 | 8,267 | 8,612 | 8,631 | 8,306 | 7,209 | 7,023 | 5,947 | 5,579 | 5,190 | 5,463 | +5.3% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 8,457 | 8,210 | 7,554 | 7,979 | 8,288 | 8,415 | 8,089 | 6,992 | 6,807 | 6,091 | 5,723 | 5,011 | 5,356 | +6.9% |
| کندهار | مورفین | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| بادغیس | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 4,098 | 4,005 | 3,957 | 4,065 | 4,011 | 4,038 | 4,159 | 4,092 | 4,004 | 3,989 | 3,654 | 3,712 | 3,853 | +3.8% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 7,256 | 7,237 | 7,279 | 7,132 | 7,248 | 6,874 | 7,129 | 7,150 | 6,350 | 5,544 | 4,946 | 5,087 | 5,137 | +1.0% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 6,047 | 6,324 | 5,371 | 5,206 | 5,085 | 4,941 | 4,233 | 4,183 | 4,094 | - | - | - | - | - |
| هرات | بهترین پودر | 8,537 | 7,940 | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| هرات | مورفین | - | - | - | - | - | 5,639 | - | - | - | 4,781 | 4,353 | 4,537 | 4,637 | +2.2% |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 6,972 | 7,870 | 7,067 | 6,989 | 6,876 | 6,444 | 7,278 | 6,846 | 6,723 | 5,178 | 4,734 | 4,950 | 4,281 | -13.5% |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 8,893 | 6,464 | 5,936 | 5,848 | 6,052 | 5,639 | 5,822 | 5,362 | 5,401 | - | - | - | - | - |
| فراه | مورفین | 6,403 | 6,324 | 5,229 | 5,135 | 5,873 | 5,370 | 5,531 | 5,111 | 5,184 | 4,464 | 4,036 | 4,262 | 3,995 | -6.3% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 5,357 | 5,354 | 7,040 | 7,162 | 7,131 | 7,499 | - | - | - | 4,810 | 4,643 | 4,812 | 4,923 | +2.3% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 4,524 | 4,521 | 5,073 | 5,321 | 4,728 | 4,742 | 4,049 | 4,998 | 4,714 | - | - | - | - | - |
| نیمروز | بهترین پودر | - | - | - | - | - | - | 4,246 | 5,355 | 5,190 | 4,998 | 4,379 | 4,565 | 4,680 | +2.5% |
| نیمروز | مورفین | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | 4,737 | - |

**۹جدول: د یو کیلوګرام مخلتف ډوله هیروینو نرخ په نورو سیمیزو پیسو**

| ولایت | د هیروئینو ډولونه | سیمیز پیسو واحد | د یو کیلوګرام بیلابیل ډول هیروینو بیه په محلی پیسو واحدنو | | په % بدلون |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | فبروری 2025 | مارچ 2025 | |
| بدخشان | بتن (100) | افغانی | 740,000 | 730,000 | -1% |
| بدخشان | سپین پودر( کرستال) - 60% | افغانی | 501,000 | 511,000 | +2% |
| تخار | بتن (100) | افغانی | 701,000 | 701,000 | 0% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 500,000 | 490,000 | -2% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 305,000 | 305,000 | 0% |
| کندز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 431,000 | 431,000 | 0% |
| ننګرهار | سپین پودر (بتن) | روپه پاکستانی | 1,965,000 | 1,957,000 | -0.4% |
| ننګرهار | بهترین پودر | روپه پاکستانی | 1,475,000 | 1,467,000 | -1% |
| ننګرهار | چره # 1 | روپه پاکستانی | 350,000 | 343,000 | -2% |
| ننګرهار | چره # 2 | روپه پاکستانی | 220,000 | 214,000 | -3% |
| ننګرهار | خطه # 1 | روپه پاکستانی | 98,000 | 94,000 | -4% |
| ننګرهار | خطه # 2 | روپه پاکستانی | 90,000 | 85,000 | -6% |
| فاریاب | سپین پودر (بتن) لورکیفیت - 60% | افغانی | 389,000 | 390,000 | +0.3% |
| فاریاب | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت -40% | افغانی | 336,000 | 338,000 | +1% |
| بلخ | سپین پودر (بتن) لورکیفیت - 60% | افغانی | 467,000 | 470,000 | +1% |
| بلخ | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت -40% | افغانی | 363,000 | 365,000 | +1% |
| بلخ | بهترین پودر - 20% | افغانی | 182,000 | 185,000 | +2% |
| هلمند | سپین پودر (بتن) لورکیفیت | دپاکستانی روپه | 1,040,000 | 1,050,000 | +1% |
| هلمند | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت | دپاکستانی روپه | 1,000,000 | 1,010,000 | +1% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 60% | دپاکستانی روپه | 1,450,000 | 1,550,000 | +7% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 40% | دپاکستانی روپه | 1,400,000 | 1,600,000 | +14% |
| هلمند | مورفین | دپاکستانی روپه | - | - | - |
| کندهار | سپین پودر (بتن) لورکیفیت | دپاکستانی روپه | 1,030,000 | 1,040,000 | +1% |
| کندهار | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت | دپاکستانی روپه | 1,000,000 | 1,000,000 | 0% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | دپاکستانی روپه | 1,450,000 | 1,530,000 | +6% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | دپاکستانی روپه | 1,400,000 | 1,500,000 | +7% |
| کندهار | مورفین | دپاکستانی روپه | - | - | - |
| بادغیس | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 270,000 | 170,000 | -37% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 370,000 | 360,000 | -3% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | - | - | - |
| هرات | بهترین پودر | افغانی | - | - | - |
| هرات | مورفین | افغانی | 330,000 | 325,000 | -2% |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 360,000 | 300,000 | -17% |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | - | - | - |
| فراه | مورفین | افغانی | 310,000 | 280,000 | -10% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 350,000 | 345,000 | -1% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | - | - | - |
| نیمروز | بهترین پودر | افغانی | 332,000 | 332,000 | 0% |
| نیمروز | مورفین | افغانی | - | - | - |


## ۵. صنعتي نشه يي توکي

صنعتي نشه يي توکي چې له کېمياوي مادو څخه جوړېږي ډېر خطرناک نشه يي توکي دي چې مصرف يې د انسان روغتيا ته ډېر ضرر لري او استعمال يې د انسان د روږدي کېدو سبب کېږي.
له بده مرغه په افغانستان کې د صنعتي نشه يي توکو مصرف کوونکې ځوانان دي ځکه چې د صنعتي نشه يي توکو موندنه اسانه او بيه يې لږ ده او دا نشه يي توکي په هر ځای کې پيدا کېږي لکه د خرڅلاو مارکېټونو کې او همدرانګه په ځينې محفلونو کې پيدا کېږي.
صنعتي نشه يي توکي روږدي کېدو سبب کېږي او کېداي شي د انسان روغتيا ته زيان ورسوي او د انسان ورځني ژوند باندي بد اغيزکوی.
مت امفيتامين، تابليت کا او سوسيګان په هيواد کې موندل کېږي او مت امفيتامين په څو نومونو سره خرڅيږي چې شيشه نوم يې مشهور ده.

## ۱۰ جدول: دیوه واحد صنعتي نشه يي توکو بیه په ډالرو

| سیمه | د صنعتي نشه يي توکو ډولونه | مارچ 2025 |
|---|---|---|
| مرکز | د یو گرام بهرني شیشه بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو گرام وطني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 1.2 |
| | د یو بهرني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | 1.15 |
| | د یو وطني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکي تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 16.2 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایراني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 8.2 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستاني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 3.6 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 1.4 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکي تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایراني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستاني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| ختیځ | د یو گرام بهرني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 1.7 |
| | د یو گرام وطني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 1.1 |
| | د یو بهرني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو وطني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکي تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایراني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 1.5 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستاني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 1.7 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 1.1 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکي تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایراني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستاني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| شمال | د یو گرام بهرني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 2.1 |
| | د یو گرام وطني شیشه بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو بهرني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | 0.8 |
| | د یو وطني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | 0.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکي تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایراني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 8.2 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستاني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 7.7 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 1.6 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکي تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایراني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستاني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| سویل | د یو گرام بهرني شیشه بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو گرام وطني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 0.5 |
| | د یو بهرني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو وطني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکي تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 20.2 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایراني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستاني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 4.7 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکي تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایراني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستاني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| لویدیځ | د یو گرام بهرني شیشه بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو گرام وطني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 0.9 |
| | د یو بهرني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | 3.6 |
| | د یو وطني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکي تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 12.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایراني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستاني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 8.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 5.0 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکي تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایراني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | 5.7 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستاني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| شمال ختیځ | د یو گرام بهرني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 1.8 |
| | د یو گرام وطني شیشه بیه په امریکائي دالرو | 1.5 |
| | د یو بهرني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | 1.4 |
| | د یو وطني سوسکان امپول بیه په امریکائي دالرو | 0.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکي تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 11.9 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایراني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 7.1 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستاني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 5.0 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطني تابلیتK) بیه په امریکائي دالرو | 5.0 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکي تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایراني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستاني تابلیت K ) بیه په امریکائي دالرو | - |

**۴ شکل: د ډول ډول صنعتي نشه يي توکو بيي په ډالرو ۲۰۲۵ کال مارچ میاشت**




### ۶. چرس

په افغانستان کې درې ډول چرس موندل کيږي ( ګرده ۱،۲،۳) چې ترتيب سره عالي، متوسط او ښه دي.
اول ډول چرس چې (شيرک) باندې مشهور دي د هيواد په بدخشان ولايت کې پيدا کېږي چې د سوچه والي له نظره لوړه بيه لري. او همدارنګه د نشه يي توکو سره د مبارزې معينيت د لابراتوار د معلوماتو له مخې په پنجشير ولايت کې هم چرس لوړ کېفيت لري.
مخکې له دې د بلخ ولايت مشهور چرس چې (پتنوسي) په نوم يادېدل لوړه بيه يې درلوده مګر کله چې ورسره نور چرس ګډ شول نو ارزش يې له لاس ورکړ.


**۱۱ جدول: د يو کيلو ګرام بنګو يي په افغانستان کې په ډالرو د مارچ ۲۰۲۴ تر مارچ ۲۰۲۵**

| ولایت | د بنګو د ګردو ډولونه | مارچ_24 | اپریل_24 | می_24 | جون_24 | جولای_24 | اګست_24 | سپتمبر_24 | اکتوبر_24 | نومبر_24 | دسمبر_24 | جنوری_25 | فبروری_25 | مارچ_25 | دبیو توپیر ( فبروری - مارچ ) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | ګرده -۱ | 90 | 94 | 101 | 104 | 112 | 115 | 108 | 101 | 90 | 80 | 72 | 64 | 64 | 0% |
| ننګرهار | ګرده -۲ | 65 | 68 | 69 | 72 | 77 | 79 | 76 | 72 | 64 | 63 | 61 | 57 | 54 | -7% |
| ننګرهار | ګرده -۳ | 50 | 52 | 56 | 54 | 61 | 68 | 65 | 61 | 55 | 54 | 53 | 47 | 43 | -8% |
| فاریاب | ګرده -۱ (شیرک) | 214 | 239 | 252 | 215 | 222 | 203 | 267 | 285 | 268 | 257 | 231 | 261 | 258 | -1% |
| فاریاب | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | 185 | 204 | 208 | 186 | 189 | 171 | 223 | 234 | 224 | 212 | 188 | 206 | 200 | -3% |
| فاریاب | ګرده -۳ (خاکه) | 143 | 162 | 150 | 135 | 140 | 131 | 178 | 189 | 179 | 168 | 145 | 165 | 143 | -13% |
| بلخ | ګرده -۱ (پتنوسی) | 199 | 216 | 230 | 218 | 232 | 192 | 297 | 320 | 293 | 254 | 225 | 248 | 243 | -2% |
| بلخ | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | 171 | 190 | 195 | 182 | 198 | 153 | 237 | 253 | 221 | 184 | 155 | 179 | 150 | -16% |
| بلخ | ګرده -۳ (خاکه) | 142 | 157 | 172 | 163 | 175 | 123 | 178 | 188 | 155 | 123 | 105 | 124 | 100 | -19% |
| بغلان | ګرده -۱ (خاکی) | 213 | 221 | 224 | 207 | 215 | 200 | 310 | 308 | 269 | 234 | 212 | 232 | 217 | -7% |
| بغلان | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | 157 | 173 | 177 | 160 | 172 | 157 | 243 | 246 | 209 | 178 | 155 | 180 | 173 | -3% |
| بغلان | ګرده -۳ (خاکه) | 121 | 132 | 134 | 125 | 139 | 129 | 199 | 200 | 149 | 123 | 107 | 124 | 123 | -1% |
| بدخشان | ګرده -۱ (شیرک) | 213 | 218 | 207 | 213 | 236 | 243 | 260 | 280 | 276 | 252 | 237 | 254 | 271 | +7% |
| تخار | ګرده -۱ (شیرک) | 221 | 225 | 238 | 244 | 208 | 215 | 238 | 254 | 284 | 245 | 231 | 247 | 278 | +12% |
| کندهار | ګرده -۱ (شیرک) | 92 | 116 | 96 | 100 | 124 | 144 | 136 | 116 | 160 | 200 | 240 | 167 | 155 | -7% |
| کندهار | ګرده -۲ | 48 | 52 | 44 | 48 | 56 | 76 | 68 | 48 | 80 | 100 | 160 | 91 | 71 | -22% |
| کندهار | ګرده -۳ | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| هرات | ګرده -۱ (شیرک) | 299 | 302 | 233 | 221 | 236 | 215 | 252 | 262 | 291 | 302 | 277 | 309 | 328 | +6% |
| هرات | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | 135 | 141 | 155 | 136 | 143 | 150 | 178 | 190 | 202 | 158 | 145 | 137 | 178 | +30% |
| پنجشیر | ګرده -۱ (پخته) | 184 | 217 | 213 | 210 | 251 | 243 | 263 | 310 | 313 | 245 | 215 | 227 | 248 | +9% |
| پنجشیر | ګرده -۲ (خام) | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |

**۵ شکل: د يو کيلو ګرام (ګرده-۱ عالي) بنګو بيه په ډالرو د (۲۰۲۴ مارچ – ۲۰۲۵ مارچ) مياشتو تر منځ**



**۶ شکل: په هیواد کې د یو کیلوګرام بیلا بیلو ډولونو بنګو یي په ډالرو د مارچ میاشت ۲۰۲۵ کال**




۱۲ جدول: په هیواد کې د یو کیلو ګرام بیلابیلو ډولونو چرس یي په سیمیزو پولي واحدنو (فبروری ۲۰۲۵ – مارچ ۲۰۲۵)

| ولایت | د بنګ ډولونه | د پیسو واحد | د یو کیلو ګرام مختلف ډوله چرس قیمت په محلی پیسو | | بدلون په % |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | فبروی 2025 | مارچ 2025 | |
| ننګرهار | ګرده # 1 | روپه پاکستانی | 18,000 | 18,000 | 0% |
| | ګرده # 2 | روپه پاکستانی | 16,000 | 15,000 | -6% |
| | ګرده # 3 | روپه پاکستانی | 13,000 | 12,000 | -8% |
| فاریاب | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 19,000 | 18,000 | -5% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 15,000 | 14,000 | -7% |
| | ګرده هـ # 3 (خاکه) | افغانی | 12,000 | 10,000 | -17% |
| بلخ | ګرده # 1 (پطنوسی) | افغانی | 18,000 | 17,000 | -6% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 13,000 | 10,500 | -19% |
| | ګرده # 3 (خاکه) | افغانی | 9,000 | 7,000 | -22% |
| بغلان | ګرده # 1 (چکی) | افغانی | 16,800 | 15,000 | -11% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 13,000 | 12,000 | -8% |
| | ګرده # 3 (خاکه) | افغانی | 9,000 | 8,500 | -6% |
| بدخشان | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 18,500 | 19,000 | +3% |
| تخار | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 18,000 | 19,500 | +8% |
| کندهار | ګرده # 1 (شیرک) | روپه پاکستانی | 46,667 | 43,333 | -7% |
| | ګرده # 2 | روپه پاکستانی | 25,556 | 20,000 | -22% |
| | ګرده # 3 | روپه پاکستانی | - | - | - |
| هرات | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 22,500 | 23,000 | +2% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 10,000 | 12,500 | +25% |
| پنجشیر | ګرده # 1 (خام) | افغانی | 16,500 | 17,292 | +5% |
| | ګرده # 2 (پخته) | افغانی | - | - | - |

## 7. د چرسو او کوکنارو داني

د چرسو او کوکنارو د دانو بيې د هيواد له ۱۷ ولايتونو څخه راټوليږي چې په لاندي جدول کې منظم شوي دي.

### ۱۳ جدول: د چرسو او کوکنارو د دانو بيې په سيميز د پيسو په واحدنو (فبروری ۲۰۲۵ – جنوری ۲۰۲۵)

| ولایت | د دانو ډولونه | د سیمیز پیسو واحد | د یو کیلو ګرام د بنګو او کوکنارو د دانو بیې | | د بیو بدلون په % |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | فبروری 2025 | مارچ 2025 | |
| بدخشان | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 130 | 140 | +8% |
| | د بنګو دانه | افغانی | 70 | 80 | +14% |
| تخار | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 130 | 130 | 0% |
| | د بنګو دانه | افغانی | 80 | 85 | +6% |
| بلخ | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 114 | 100 | -12% |
| | د بنګو دانه | افغانی | 68 | 80 | +18% |
| بغلان | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 90 | 130 | +44% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 75 | 90 | +20% |
| فاریاب | د بنګو دانه | افغانی | 115 | 115 | 0% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 80 | 70 | -13% |
| هرات | د بنګو دانه | افغانی | 100 | 110 | +10% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 90 | 100 | +11% |
| فراه | د بنګو دانه | افغانی | 125 | 125 | 0% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 85 | 85 | 0% |
| هلمند | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 46 | 36 | -22% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 40 | 41 | +3% |
| کندهار | د بنګو دانه | افغانی | 46 | 38 | -16% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 46 | 41 | -10% |
| زابل | د بنګو دانه | افغانی | 46 | 38 | -16% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 51 | 44 | -15% |
| ارزګان | د بنګو دانه | افغانی | 57 | 49 | -14% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 54 | 49 | -9% |
| ننګرهار | د کوکنارو دانه (خشخاش) | پاکستانی کلداره | 325 | 275 | -15% |
| | د بنګو دانه | پاکستانی کلداره | 55 | 55 | 0% |
| کنر | د کوکنارو دانه (خشخاش) | پاکستانی کلداره | 300 | 300 | 0% |
| | د بنګو دانه | پاکستانی کلداره | - | - | - |
| لغمان | د کوکنارو دانه (خشخاش) | پاکستانی کلداره | 180 | 175 | -3% |
| | د بنګو دانه | پاکستانی کلداره | 128 | 127 | -1% |
| کابل | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 150 | 160 | +7% |
| غزنی | د بنګو دانه | افغانی | - | - | - |
| کاپیسا | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 100 | 100 | 0% |


### ۱۴ جدول: د يو کيلو ګرام چرسو او کوکنارو دانو بيه په ډالرو ( مارچ ۲۰۲۴ تر مارچ ۲۰۲۵)

| د دانو ډولونه | مارچ _ 24 | اپریل _ 24 | می _ 24 | جون _ 24 | جولای _ 24 | اګست _ 24 | سپتمبر_ 24 | اکتوبر_ 24 | نومبر_ 24 | دسمبر_ 24 | جنوری_ 25 | فبروری_ 25 | مارچ _ 25 | زیاتوالی/کموالی (%) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بنګو دانه | 1.105 | 1.016 | 0.980 | 1.105 | 1.054 | 0.920 | 0.882 | 0.940 | 0.902 | 0.849 | 0.767 | 0.836 | 0.895 | +7% |
| د کوکنارو دانه ( خشخاش) | 1.978 | 1.669 | 1.659 | 1.679 | 1.553 | 1.468 | 1.407 | 1.438 | 1.400 | 1.467 | 1.339 | 1.256 | 1.306 | +4% |

## ۸. د هیروینو، تریاکو او چرس يي د مصرف کوونکو په سطح

د هیروینو، تریاکو او بنگو يی د مصرف کوونکو په سطح د هیواد له بیلابیلو سیمو څخه راټول شوي دي چې د نشه يي توکو کیفیت د سیمو تر منځ توپیر کوي.

### ۷. شکل: د هیروینو، تریاکو او بنګو د بیو سیمیز اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو ۲۰۲۵ کال مارچ




### ۱۵ جدول: د هیروینو، تریاکو او چرسو د بیو اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو د ۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵ مارچ میاشتو ترمنځ

| د نشه يي توکو ډولونه | د یو کیلوګرام بیه په اوسط ډول په امریکائی ډالرو | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مارچ_24 | اپریل_24 | می_24 | جون_24 | جولای_24 | اګست_24 | سپتمبر_24 | اکتوبر_24 | نومبر_24 | دسمبر_24 | جنوری_25 | فبروری_25 | مارچ_25 | دقیمت بدلون (فبروری-مارچ) % |
| هیروئین | 7,427 | 7928 | 7,500 | 7398 | 8220 | 8,016 | 8688 | 8,807 | 8,115 | 8070 | 7398 | 7389 | 8115 | +10% |
| تریاک | 867 | 896 | 885 | 871 | 954 | 922 | 934 | 931 | 905 | 815 | 740 | 682 | 703 | +3% |
| چرس | 210 | 226 | 224 | 217 | 226 | 224 | 234 | 249 | 244 | 271 | 265 | 254 | 235 | -7% |

## ۹. د اسیتک انهایدراید(تیزابونو) بیه

### ۱۶ جدول: په افغانستان کې د یو لیټر استیک انهایدارید بیه په ډالرو د ۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵ مارچ میاشتو تر منځ

| د استیک انهایدراید(تیزابونو) ډولونه | مارچ_24 | اپریل_24 | می_24 | جون_24 | جولای_24 | اګست_24 | سپتمبر_24 | اکتوبر_24 | نومبر_24 | دسمبر_24 | جنوری_25 | فبروری_25 | مارچ_25 | زیاتوالی/کموالی (%) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| استیک انهایدراید - A* (جرمنی) | 245 | 255 | 223 | 204 | 210 | 207 | 220 | 223 | 218 | 200 | 182 | 158 | 164 | +4% |
| استیک انهایدراید - B* (جاپانی) | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| استیک انهایدراید - C* (هندی) | 126 | 133 | 145 | 155 | 159 | 166 | 155 | 145 | 180 | 144 | 126 | 172 | 114 | -34% |
| استیک انهایدراید - D* (پاکستانی) | 72 | 77 | 80 | 152 | 156 | 162 | 160 | 153 | 151 | 126 | 108 | 133 | 100.0 | -25% |
| استیک انهایدراید - E* (چینائی) | 199 | 206 | 204 | 198 | 199 | 194 | 179 | 175 | 190 | 169 | 141 | 118 | 150 | +27% |
| استیک انهایدراید - F* (ایرانی) | 103 | 105 | 109 | 96 | 114 | 112 | 120 | 125 | 108 | 131 | 133 | 107 | 99 | -8% |

### ۱۰. د اومان بیه

Ephedra (اومان) يو ټيټ تل زرغون بوټی دي ، د کوچنيو ټوټو پاڼو سره. دا په چين او هند هيواد کې د زکام، تبه ، سر درد، ټوخی او نورو درملنو لپاره د درملو اوږد تاريخ لری. افيډرا ډيری ډولونه کېمياوی افدرين لری. دا په متحده ايالاتو کې منع دي.

**په کومو هيوادونو کې پيدا کېږی؟**

سویلی اروپا، شمالی افريقا څخه تر آسيا پوری او همدارنګه د شمالی سویلی امريکا په غرونو کې موندل کېږی، افيدرا (اومان) معمولا د وچو او صحرايي سيمو نباتات دي.

اومان په طبيعی ډول د افغانستان په بيلا بيلو زونونو کې هم موندل کېږی او د مت امفيتامين (شيشې) په توليد کې کارول کېږی. د ۲۰۲۳ کال سپتمبر مياشتې څخه، د مخدره توکو سره د مبارزی معينيت د اومان نرخ هم د مخدره توکو مياشتنی نرخ په راپور کې شامل کړو.

**۱۷ جدول: په افغانستان کې د اومان د یوکیلو ګرام اوسط بیه په امریکايي ډالرو د ۲۰۲۵ فبروری څخه تر ۲۰۲۵ مارچ پوری**

| دیو کیلو ګرام د "اومان" اوسط نرخ د زون په سطح په امریکايي ډالرو | | | |
|---|---|---|---|
| سيمه | فبروری _ 2025 | مارچ _ 2025 | د بيو توپير په سلنه |
| شمال | 0.65 | 0.68 | +5% |
| شمال ختيځ | 0.71 | 0.81 | +14% |
| لويديځ | 0.73 | 0.75 | +3% |
| مرکز | 0.53 | 0.50 | -6% |
| سويل | 1.13 | 1.40 | +23% |
| ختيځ | 0.84 | 0.86 | +2% |
| **د افغانستان په سطح اوسط نرخونه** | **0.78** | **0.87** | **+11%** |

## ۱۱. مشروع محصولات

مشروع نباتات لکه ( غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطنی وريجي ) بيي چې د هيواد له ۷ ولايتونو څخه را ټول شوي دي په لاندي جدول کې ليدي شي.

**۱۸ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطنی وريجي بيي په افغانستان کې په محلی پيسو ۲۰۲۵ کال مارچ مياشت**

| ولایت | د نباتاتو ډول | دیو کیلوګرام قیمت په پاکستانی کلدارو | دیو کیلوګرام قیمت په افغانیو | دیو کیلوګرام قیمت په امریکائی ډالرو |
|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | غنم | - | 34 | 0.5 |
| ننګرهار | پنبه | - | 100 | 1.4 |
| ننګرهار | خارجي وريجي | - | 88 | 1.3 |
| ننګرهار | وطنی وريجي | - | 38 | 0.5 |
| بلخ | غنم | - | 22 | 0.3 |
| بلخ | پنبه | - | 90 | 1.3 |
| بلخ | خارجي وريجي | - | 92 | 1.3 |
| بلخ | وطنی وريجي | - | 45 | 0.6 |
| بدخشان | غنم | - | 22 | 0.3 |
| بدخشان | خارجي وريجي | - | 100 | 1.4 |
| بدخشان | وطنی وريجي | - | 68 | 1.0 |
| تخار | غنم | - | 21 | 0.3 |
| تخار | خارجي وريجي | - | 100 | 1.4 |
| تخار | وطنی وريجي | - | 64 | 0.9 |
| هلمند | غنم | - | 24 | 0.4 |
| هلمند | پنبه | - | 122 | 1.8 |
| هلمند | خارجي وريجي | - | 82 | 1.2 |
| کندهار | غنم | - | 26 | 0.4 |
| کندهار | پنبه | - | 127 | 1.8 |
| کندهار | خارجي وريجي | - | 81 | 1.2 |
| هرات | غنم | - | 19 | 0.3 |
| هرات | پنبه | - | 155 | 2.2 |
| هرات | زعفران | - | 91000 | 1298 |
| هرات | خارجي وريجي | - | 85 | 1.2 |
| هرات | وطنی وريجي | - | 67 | 1.0 |

**۱۹ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطنی وريجي د بيو اوسط په افغانستان کې په ډالرو د ۲۰۲۴ تر ۲۰۲۵ مارچ مياشتو پورې**

| د مشروع نباتاتو ډولونه | مارچ - 24 | اپریل - 24 | می_24 | جون_24 | جولای_24 | اګست_24 | سپتمبر_24 | اکتوبر_24 | نومبر_24 | دسمبر- 24 | جنوری - 25 | فبروری - 25 | مارچ - 25 | زیاتوالی/کموالی (٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غنم | 0.46 | 0.38 | 0.33 | 0.31 | 0.29 | 0.30 | 0.33 | 0.35 | 0.34 | 0.34 | 0.32 | 0.34 | 0.34 | +2% |
| پنبه | 1.88 | 1.94 | 1.84 | 1.77 | 1.79 | 1.77 | 1.81 | 1.85 | 1.82 | 1.74 | 1.57 | 1.66 | 1.71 | +3% |
| زعفران | 1108 | 1736 | 1714 | 1668 | 1655 | 1776 | 1961 | 1993 | 1927 | 1858 | 1781 | 1760 | 1298 | -26% |
| خارجي وريجي | 1.53 | 1.55 | 1.46 | 1.42 | 1.36 | 1.29 | 1.29 | 1.37 | 1.34 | 1.28 | 1.28 | 1.25 | 1.29 | +3% |
| وطنی وريجي | 1.10 | 0.96 | 0.87 | 0.85 | 0.79 | 0.81 | 0.82 | 0.85 | 0.82 | 0.79 | 0.76 | 0.79 | 0.81 | +2% |

## ۱۲. د روانې میاشتې د نرخونو د لوړېدو او ټيټېدو لاملونه

### د ټولو مخدره توکو د لوړېدو لاملونه:

- ❖ د ترياکو او چرسو د کښت، دنشه يي توکو د توليد، استعمال او قاچاق د منع په اړه د اميرالمومنين حفظه الله د فرمان تطبيق.
- ❖ د مخدره توکو د فعاليتونو د ډولونو لپاره د ځانګړو جزا د ټاکلو په اړه دمتحد المال نمبر (۱۳) او (۳۲) مادې تصويب او خپرول.
- ❖ د کوکنارو د کښت او د مخدره موادو د پروسس د فابريکو ويجاړول.
- ❖ د کوکنارو او چرسو د کښت د مخنيوي او د هغه د کروندو له منځه وړلو په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو قاطع اراده.
- ❖ د مخدره توکو د ذخيره کولو بازارونو ترتيب ګډوډ کول او د مخدره توکو ذخيره کمول.
- ❖ د مخدره توکو کارولو لپاره د محلي، سيمه ايزو او نړيوالو غوښتنو شتون.
- ❖ د نشه يي توکو د قاچاق وړونکو تعقيبول.

### د نشه يي توکو د هرې برخې د لوړېدو او ټيټېدو لاملونه

**لومړۍ برخه ترياک:**
**د افغانستان په کچه د ترياکو په بيه کې بدلون:** د تيرې مياشتې په پرتله د افغانستان په کچه د وچو ترياکو اوسط بيه د پټی په سر او سوداګرو په کچه ۳,۲٪ او ۲,۹٪ راټيټه شوی او همدارنګه د تازه ترياکو اوسط بيه د پټی په سر او د سواداګرو په کچه ۱٪ لوړه شوی.
هغه عوامل چې د هيواد د هر زون په کچه د يوې مياشتې دمخه په پرتله د نرخونو د کمښت او زياتوالی لامل شوي دي لاندې ذکر شوی دي.

**د زونونو په کچه د ترياکو په بيه کې بدلون:**
<u>**په سويل زون**</u>کې د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو د پروسې د پلی کولو امله د اپينو بيه لوړه شوی ده، چې پايله کې د اپينو په توليد کې کمښت راولي.
<u>**په ختيځ زون کې**</u> د ترياکو بيه د ترياکو د کشف او ضبط زياتوالی او د قاچاق وړونکو لخوا د هغې د ليږد نشتوالی له امله راټيټه شوې ده.
<u>**په شمال زون کې :**</u> د ترياکو بيه يو څه لوړه شوې ده، چې اصلی دليلونه يې د قانون پلي کول او د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو د پروسې پلي کول دي، په ځانګړې توګه په بلخ ولايت کې.

<u>**په لويديځ زون کې**</u> د ترياکو بيه يو څه راټيټه شوې ده، چې اصلی لاملونه يې :
لومړی لامل:په لويديځو پولو کې د ترياکو د قاچاق مخنيوی.
دويم لامل: د ترياکو د حاصلاتو د موسم راتګ.
دريم لامل: د ايفيدرا (اومان) بوټی په کارولو سره د شيشې توليد ته پاملرنه راجلبول.

**شمال ختيځ زون :** په تخار او کندوز ولايتونو کې کوم د پام وړ بدلون نه دى راغلى، يوازې په بدخشان ولايت کې د کوکنارو د حاصلاتو د موسم د رارسيدو، د قانون د پلى کيدو او دهغى د پيرود او پلور د مخنيوى له امله د ترياکو بيه راټيټه شوې ده.

**دوهمه برخه هيروين**: دا چې هيروين له ترياکو څخه جوړيږي، نو د افغانستان په کچه د ترياکو په اوسط نرخ کې عمومى کموالى د هيروينو د بيى د کمښت لا امله دى. البته، په هيروينو کې چې لږ څه زياتوالى راغلى، هغه ريښتينى نه دى، بلکه د نورو اسعارو په وړاندې د امريکايي ډالر د ارزښت کميدل د هيروينو ډالرى بيه لوړيدل ښيى.

**دريمه برخه چرس:** د هيواد په کچه د چرسو په اوسط قيمت کې د تېرې يوې مياشتى په پرتله په ډيرى ولايتونو کې کموالى راغلى دى. دليل يي په سويل زون کې د پاکستان په هيواد کې د چرسو د توليد زياتوالى، په شمال زون کې د چرسو د پلور لپاره د مناسب بازار نشتوالى، د چرسو د کشف او ضبط زياتوالى او نشه يي توکو د استعمال کوونکو په عادتونو کې بدلون او د چرسو پر ځاى شيشى او نشه يي ګوليو استعمال دى.

**څلورمه برخه صنعتي نشه يي توکي:** د نورو نشه يي توکو په پرتله صنعتى نشه يى توکي ډير بې ثباته دى، بيلابيل عوامل لکه: عرضه او تقاضا، د امريکايي ډالرو په مقابل کې د اسعارو بدلون، د قانون پلى کول او په هيواد کې د هغې د پلور او پيرود مخنيوى د صنعتى نشه يي توکو په بيو اغيز کوى.

### ۱۳. يادښتونه، ستونزې  او وړانديزونه

**اساس:** دغه تحليلي راپور په هغو ولايتونو کې چې کوکنار، چرس او زعفران په کې کرل کېږي، د مخدره موادو د مياشتني نرخ پر اساس جوړ شوی دي. په دې راپور کې د زعفرانو سرېيره غنم، پنبه، وارداتي وريجې او کورني وريجې هم شاملې دي. په دې وروستيو کې د اومان بوټی بيه، چې په انګليسی کې ورته Ephedra ويل کيږي او د شيشې په توليد کې کارول کيږي، هم پدې راپور کې شامله شوې ده.

**د موضوع شرح:**

- ټولو ته څرګنده ده چې زموږ په هېواد کې له ډېرو کلونو راهيسې د کوکنارو او چرسو کښت او توليد او د بېلابېلو نشه يي توکو کارول ډېر شتون درلود او شاوخوا څلور ميليونه هېوادوال چې ځوانان، ماشومان، نارينه او ښځې پکې شامل دي په هر ډول نشه يي توکو روږدي وو.

- خو له نيکه مرغه د افغانستان د اسلامی امارت د مشر تابه له خوا د فرمان له صادرولو وروسته د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې معينيت د مخدره توکو د مختلفو اړخونو لکه د کوکنارو کښت، د ترياکو توليد، د چرسو کښت او د بيلابيلو نشه يي توکو استعمال سره د مبارزې لپاره قاطع پريکړه کړی ده. په پايله کې د افغانستان په ولايتونو کې د کوکنارو او چرسو د کښت کچه د پام وړ کمه شوې ده.

- دا سروې چې پرله پسې له 21 کلونو راهيسې ترسره کېږی، د نشه يي توکو د ټولو ډولونو د بيو د څارنې سروې ده، د دې سروې تحليلي راپور هره مياشت د افغانستان په کچه، ترتيب او پايلې په رسمي توګه باصلاحيته چارواکو ته وړاندې کېږي.

- طبيعي خبره ده چې له نشه يي توکو سره د هر اړخيزې مبارزې په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د فرمان له صادريدو وروسته په افغانستان کې د کوکنارو او چرسو کښت کې د پام وړ کموالي راغلي دي.

- له بلې خوا د توليد کموالی د ترياکو او چرسو د عرضې د کميدو لامل شوی دی. اقتصادي نظريات ښيي چې د محصول په عرضه کې کمښت، که تقاضا ثابته وي، د محصول په بيه کې د پام وړ زياتوالی لامل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د فرمان له صادريدو وروسته د ترياکو، چرسو او هر ډول صنعتي نشه يي توکو (ټابليټ کا، شيشه اوسوسيګان) لوړې شوې دي. د نرخونو زياتوالی به تر هغه وخته پورې وي ترڅو چې په افغانستان کې د کوکنارو او چرسو کښت او توليد کم وی.

**ستونزې او مشکلات:**

**وړانديزونه:**


## ۱۴. میتودلوژي/ کړنلاره

- يي د هري مياشتي په وروستي اووني کې له ۲۰ کسه بزګرانو او په همدي شمير تجارانو څخه د نشه يي توکو د سروې او تحليل رياست د مسلکي کارمندانو له خوا راټوليږي.
- د ترياکو بيه د افغانستان د ۳۴ ولايتونو له جملي څخه يواځي له ۲۵ ولايتونو لکه بدخشان، بغلان، بادغيس، بلخ، فراه، فارياب، غور، هلمند، هرات، کندهار، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، نيمروز، ارزګان، تخار، سرپل، سمنګان، جوزجان او زابل د پټي په سر او تجارانو څخه راټوليږي.
- د هيروينو او مورفينو بيه د هيواد له ۱۲ ولايتونو لکه: بدخشان، تخار، کندز، بلخ، فارياب، بادغيس، هلمند، کندهار، ننګرهار، هرات، نيمروز او فراه څخه راټوليږي او د بنګو بيي بيا د هيواد له ۸ ولايتونولکه بدخشان، بلخ، هرات، ننګرهار، کندهار او تخارڅخه راټوليږي. او همدارنګه د بنګو (پطنوسی) ګرده  په بلخ ولايت کې يو نوي ګرده ده چې په ۲۰۲۱ جنوري مياشت کې يي راپور راغلی دي.
- د مشروع نباتاتو بيي لکه غنم، زعفران، پنبه، وارداتي او وطني وريجي د هيواد له اوولايتونو څخه راټوليږي او په دي راپور کې نشر کيږي.
- د کوکنارو او بنګو د دانو او همدارنګه د استيک انهايدرايد د ډولونو بيي په دي راپور کې شاملې دي.
- د نشه يي توکو بيي په سيميز او محلي پيسو باندي هم تحليل او څيړل شوي دي يواځي په لوديځ زون کې  بيي په دوو د پيسو په ډولونو باندي محاسبه شوي او په دي راپور کې نشر شوي دي. بيي له بيلابيلو سيميو څخه راټولې شوي دي چې د پيسو واحد يي هم توپير کوي لکه په ختيځ کې ( کنړ،لغمان،ننګرهار) او سويل کې لکه ( کندهار،هلمند، ارزګان، او زابل) په پاکستاني کلدارو راپور راټول شوي دي، همدرانګه په شمال او شمالشرق زونونو کې په افغاني راپور راټول شوي دي، لوديځ زون کې بيي په دوه ډوله دي هلته په افغاني او ايراني تومن باندي راپور راټول شوي ده. همدرانګه د پيسو تبديل په امريکايي ډالرو باندي له مشهور سايت ( او اين ډا . کام) څخه ګټه اخستيل شوي ده.
- د صنعتي نشه يي توکو لکه ( مت امفيتامين، سوسيګان، تابليت کا) د هيواد په شپږو زونونو کې په ډالرو راټول شوي دي چې لاندي ولايتونه پکې شامل دي. کابل، ننګرهار، لغمان، کنړ، فارياب، جوزجان، سرپل، بلخ، سمنګان، بغلان، هلمند، کندهار، زابل، بادغيس، هرات، غور، فراه، نيمروز، بدخشان، تخار، او کندز.
- مت امفيتامن په هيواد کې په څو نومونو سره ياديږي چې مشهور يي شيشه ده.
- د نشه يي توکو سره د مبارزی د سروې او تحليل رياست د مخدره توکو د بيي سروې په ليست کې د ايفيډرا (اومان) بوټي قيمت سروې هم شامله کړې ده.

**۲۰ جدول: د وچ او تازه ترياکو د بيو اخيستلو څخه ليدنی شمير**

| د ترياکو ډولونه | د نظارت او ليدني شمير | | د هغه ولايتونو شمير چې نرخونه تری راټول شوی دي |
|---|---|---|---|
| | د پټي د سر بيه | د تجارانو له خوا بيه | |
| وچ ترياک | ۱۷۳ | ۱۷۰ | ۲۵ |
| تازه ترياک | ۱۰۸ | ۱۰۸ | ۱۶ |

# په هيواد کي د ترياکو بيي ددهقان او تجارپه سطح د مارچ مياشت 2025 کال




دنقشه ترتیب:د جغرافیایی معلوماتو آمریت د نشه يي توکو د سروي او تحليل رياست (NSAD)

# N.S.A.D

N.S.A.D